مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدیار یار ۲۰۲۵/۱۲/۱۳

# ډاکټر لېوال

## د تخیل او تفکر امتزاج

### دریمه‌برخه

**کنايي**

کنايي هم د ژبنيو ځانګړنو په توګه، د شعر په تازګي و شعريت کي پاموړ ونډه لرلای شي، دا داسي ژبني ميکانيزمونه دي چي د ولس په ژبه کي پراخ استعمال لري او شاعر يي له ولسي ژبي شعر ته راانتقالوي، اما دا هم ممکنه ده چي شاعر يي خپله جوړې کړي، ګومان کوم چي دلته يي ځيني استاد لېوال جوړې کړي، يو څو يي ګورو:

کلکي ګاګرې له آسمان سره جنګېدل: د ګاګرو جګوالی.
پر زړه دنګ قامت درېدل: دنګ قامت يي را يادېدل.
په تلوسه ځان له ځانه تلل: ځان هېرېدل.
وچ لرګی درېدل: حيراني.
د ډېرو دېوال د آسمان تر کنګرو ډال ايښوول: لوړوالی او مانع.
د قدرت په لاس تراشلي تالارونه: طبيعي ځايونه/ مغارې.
ښامار تر نيمايي آسمانه سر لوړول: سر ډېر پورته کول.
د سپرغی يو پرک: ډېر ژر.
په دغسي ژبنۍ زمينه کي يوه اسطوروي فضا ايجاد شوې، په دې فضا کي منظومه تنظيمېږي، هلته چي د شاعر د فکر و پيغام پر لمر باندي، د تخيل زېرنده ښلاښل تصويرونه، په مناسب او متناسب انداز سره، راګرځي او د خيال و فکر له ګډو موادو يوه دلکشه منظومه جوړوي.

**اسطوره**

اسطوره د تخيل معراج ګڼلای شو، هلته چي زمان و مکان خپل متعارف منطق بايلي او شاعر يي په خپل اختيار کي اخلي، زړه يي چي څنګه يي کاروي او څه ډول مفهوم پر تپي، يا داسي ادعا هم کولای شو چي په اسطوره کي شاعر په يوه مافوق الطبيعي ځواک بدلېږي چي د دې ځواک په وړاندې بيا هيڅ خنډ د ټينګي نه دئ، البته اسطوره داسي لامحدود لوبنی دئ چي که هر څوک و غواړي تر لاسه کولای او د خپل ظرفيت و ضرورت په اندازه يي هر ډول کارولای شي، البته د بشري ژوندانه لومړني پړاوونه يو مخ د اسطورو په غبار کي نغښتي ول هلته چي د فکر او خيال يا تخيل او واقعيت توپير نه کېده، وروسته بيا بشر فلسفي مرحلي ته داخل شو او د خيال و واقعيت توپير و شو، په دريم ګام کي انسان د ساينس پړاو ته ننووت خو په دغو ټولو پړاوو کي د اسطورې له لوبنی د بشري تاريخ د لويي برخې، په واقعي ژوند کي، ډېرو مداريانو، فرېبکارو، خودپرستو او مفادپرستو د خپل واک و ځواک لپاره، په خلاص لاس کار اخيستی/ اخلي يي او په هغه کي يي تل، د لويو لويو بشري کتلو پر سر، د ډول ډول خرافاتو مسموموونکي محتويات ور اړولي او نسلونه نسلونه يي پرې مسموم کړي او نن هم ګورو چي بشر لا له دغه مسموميت و ګنګسيته فارغ نه دئ او داسي ښکاري چي هيڅکله به تري روغ نه شي، ځکه يو خوا د انسان خواهشات ناتمام دي، بل چي بيا طبقاتي ناندولی يوه نسبي انډول ته هم نه شي نژدې کېدای، په دې توګه نو د انسان اميال و


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

غرایز په واقعي دنیا کي مطلوب جواب نه شي موندای نو بیا خپله په ځان غولونه یا بل تېرایستنه لاس پوري کوي او د کاذب تسکین لپاره د اسطورې سحر نه ځان سپاري او د دې جادو اثر هم نه ختمېدونکی ښکاري مګر بل پلو بیا، همدا اسطوره په هنر کي د خپل لومړني نقش خلاف اغېز لري او هنریت لوړي څوکي ته رسوي او کله چي دا لوښی استاد لېوال غوندي بشرپال هنرمندان په لاس کي اخلي نو بیا هغسي باکیفیته، سپېڅلي، شفابخشه محتوا ور اچوي چي همدا نن نن، نه یوازې زموږ رنځور ملت، بلکي ټول له بېلابېلو آفاتو سره مخ بشر، ور ته جدي اړتیا لري چي وروسته به یې بیان کړم. همدلته، په عقیده و هنر کي، د اسطورې د نقش اړوند، د استاد درویش دراني دا توضیح ما ته په زړه پوري ده:

"پر اساطیرو باندي په خپل خپل وخت کي خلکو عقیده لرلې ده، خو په ادب کي خبره د عقیدې نه وي، دلته خبره د تخیل د زور ده، یو ادیب د خپل تخیل په زور یوه خیالي دنیا جوړوي او ورسره ورسره د لوستونکي یا اورېدونکي ذهن هم داسي تخنوي چي د تخیل وزر یې و غوړېږي هغه خپل دغه وزر و رپوي او په الوت الوت دغي خیالي دنیا ته په داسي حال کي ور ننوزي چي حقیقي دنیا یې د یو څو شېبو دپاره هېره شوې وي، په دغو شېبو کي ادیب د یوهٔ پیغام د ور کولو او لوستونکی یا اورېدونکی د دغه پیغام د اخستلو دپاره اماده وي، د پیغام دغه راکړه ور کړه چي و شي نو بیا ور کونکی او اخستونکی بیرته خپلي حقیقي دنیا ته را ځي، دلته که هر څو هغه خیالي دنیا نوره له دوی سره نهٔ وي خو په هغې کي تبادله شوی پیغام حقیقي وي او په حقیقي دنیا کي سرې ته په ښه ور ځي (93 :2) ".

لوی شاعران لوی ارمانونه و لوی ایډیالونه لري او د هغو د بیان لپاره پراخي زمیني او لوی صلاحیت په کار وي، اسطوره دغسي یوه لایتناهي زمینه ده چي هنرمن پکښي د هر څومره فعالیت صلاحیت لرلای شي، له دې پرته، د لویو افکارو و ایډیالو د بیان لپاره، د نورو شعري صنایعو سیني تنګي ایسي، البته په اسطوروي منظومو کي د ارمانو د لا ځلولو، جذابولو او ښه رسولو لپاره، له هر ډول سیمبولیکو، استعاري، تشبیهي او پاراډوکسي تصویرو څخه کار اخیستل کېدای شي او د هنري منطق پر بنسټ، د دغو ټولو تنظیم منظومه په شهکار بدلولای شي.

اروابښاد استاد اسد آسمایي، د استاد لېوال د اساطیري تجربو په هغه پیل پیل کي لیکلي ول:

"د شعر او اسطورې د تلاقي نموني په مشرق کي هم زیاتي دي چي له ځانه سره رواني اړخ لري اما په پښتو ادبیاتو کي، که فولکلور په نظر کي و نه نیسو، دا ډول نموني ډېرې کمي دي؛ د مجروح څانګاني ښامار...په پښتو شعر کي ډېره استثنایي نمونه ده؛ پښتانه شاعران، نه پوهېږم ولي؟ دې مسلي ته نه متوجه کيږي او یا هغې ته کم اهمیت ور کوي، چي په پښتو شعر کي یوه نیمګړتیا ده. په دې وروستیو کي مي د غفور لېوال، د (باد) په نامه منظومه او تخیلي افسانه، یا د ده په ژبه، خوب لیدو ته ورته افساني بیان، د شعر په ژبه ولوستله چي زما په اند، دا یو بځرکی دی چي د ده له شاعرانه هنګار څخه پورته شوی دی. ښایي زموږ ځوان ادبي بهیر، دې ټکي ته پاملرنه و کړي چي اوس اوس، په ادبیاتو کي زړې افساني او د هغوی فلسفي او رواني شننه هم په پام کي نیول کيږي ځکه د افساني، هنر، فلسفي، ارواپوهني، ادبي او شعري انځورونو، سمبولونو او استعارو، او اسطورو د تلاقی له امله، د پاملرني وړ موضوعات رامنځته کیږي چي د اوسني پرمختللي انسان د توجه محراق ګرځي ".( 6: دوولسم)

کاشکي استاد آسمایي ژوندی وای چي نن یې د استاد لېوال له شاعرانه هنګاره، د بځرکو پر ځای، د غوړو غوړو لمبو ننداره کړې او په آسمایي صلاحیت سره تبصرې پر کړي وای، اما افسوس چي په دغه برخه کي مو تر ننه هم، ادبي بهیر رامنځته نکړای شوای، د لروبر په کچه، په ټول پښتو معاصر شعري بهیر کي یوازې د عبدالرحیم مجذوب، امین داودزي او درویش دراني نومونه یادولای شو چي دې خوا ته یې څه ناڅه توجه کړې ده البته د استاد درویش کار د نورو په نسبت د کمیت و کیفیت له مخي غنیمت و پاموړ دئ چي په اکاډمیک صلاحیت سره یې دغې خوا ته آګاهانه توجه کړې او استاد لېوال غوندې یې، هم د اسطورې پر تیوري علمي کار کړي او هم یې عملي شهکارونه پنځولي دي.

موږ که یو خوا خوښ یو چي ډاکتر لېوال په دغه برخه کي ځلاندې برياوې لري، که څه هم د استاد اسمایي له هیلي سره سم بهیر رامنځته نه شو اما ښایې ټځایه ادعا و نه ایسي چي استاد لېوال خپله د یوه بهیر په کم و کیف نوښتونه کړي او ور پسي د یوه جریان د پیلېدو امکانات یې رامنځته کړي مګر بل پلو، له بده مرغه، زموږ اوږدو جنګو چي زموږ په مادیت و مانویت بد بربادوونکي اورونه پوري کړل نو په دې ترڅ کي یې زموږ د هغه استثنایي شخصیت ډاکتر مجروح علمي صلاحیت ته هم زیان واړاوه ځکه د هغه د جهاد و مهاجرت د فاجعه بار دوران تخلیق، د هغه اروپوهنیز، فلسفي او مجموع کي اکاډمیک صلاحیت تر سوال لاندې راووست، بېلګه یې د هغه (ناآشنا سندرې) مجموعه ده چي زموږ د معاصرو ادبیاتو پر تندي یې داغ بللای شو، یو وخت که د شهید مجروح ځانځاني ښامار، د سیمبول و اسطورې په سبب استثنا وه او په دې حصه کي د لا استثنایي شهکارو تمه ځني کېده، خو (ناآشنا سندرې) په تېره یې بیا (مجاهد زوی ته د مور لیک) د بربنډ، مخامخ، غیر هنري، حتا ضد هنري او ضد علمي بیان له مخي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د هغه د هنري و علمي سقوط ثبوت ګڼل کېدای شي، اما ښه شو چي استاد لېوال د دغسي سقوط شومه نه شو او په دغه برخه کي يې زموږ معاصر ادبيات له تشي را و ژغورل. زه که د انسان د پيدايښت په هدف نه پوهېږم نو د ملګري لېوال د هستی د منطق پوهېدو يوه دعوه خو کولای شم چي هغه لکه چي په پښتو ادبياتو کي د دې تشي د ډکولو او اساطيري هنر تخليق ته هست شوی دئ او پر هغه مؤثر کسان، بايد ور باندې د دغه ضروري ماموريت د لا ښې اداينې لپاره، بيا بيا ټينګار و کړي، نوري کيسي و ماملي به نور کوي خو دی بايد په دغه برخه هغه مسؤليت ادا کړي چي نور يې نه کوي، يا يې کولای نه شي، يا يې ور پام نه دئ خو د ده هم ور پام دئ، هم يې صلاحيت لري، هم يې تر عهده وتلی او لا نور اميدونه ور ته شته، په دې ځای کي يو ځل بيا د ډاکټر اشرف غني له يادوني چاره نشته، څکه هغه د نوموړي دغه صلاحيت ته متوجه شوی او په جديت سره يې هڅولی چي په دغه لار کي لا جدي او چټک ګامونه واخلي، هغه هم د خپل واک مهال، هم اوس استاد لېوال ته جدي پام کړی چي علمي_ هنري صلاحيت يې ضايع نه شي او الحق چي هڅوني، پاملرني او لاسنيوني يې محسوس تاثيرات لرلي چي بايد ترې ممنون اوسو.

په سلسال او شاهمامه کي، د استاد آسمايي د يادو کړو علومو، فورمو او تخنيکو تلاقي روښانه وينو چي زه به يې ځينو ته نوک و نيسم، په دغه منظومه کي تاريخي_ جغرافيايي، رواني، فلسفي او ښکلاپوهنيز، سياسي، اقتصادي، ايکولوژيک، ملي او انساني واقعيتونه په سيمبوليکه و اسطوروي زمينه کي سره غاړه غړی دي، په زمان و مکان دواړو کي، د شاعر له ضرورت يا خوښي سره سم، د واقعيت و اسطوري جلوې غبرګي ليدل کيږي، ساکيامونی، سلسال و شاهمامه، د پرانګ په قفس کي بندي کول، ښامار زنداني کول، له څلورو چينو، اته ډنډونه جوړول او ورته نور، داسي اسطوري او سيمبولونه دي چي زموږ د منظومه نګار تخيل ته يې د لامحدود پرواز وزرونه ور کړي او نوموړي هم، ښې بلند پروازی ور باندې کړي دي.

په پښتو کي که اسطوريي تخليق لږ دئ او په دې لږ کار کي د استاد لېوال ونډه د کميت و کيفيت له مخي ډېره ګڼلای شو نو د اسطورو پر تاريخ و تيوري باندې څېړنيز کار هم همداسي دئ او جالبه ده چي په دې برخه کي هم د نوموړي کار د يوه مستقل کتاب په حجم پاموړ بللای شو.

په ادبياتو کي د اساطيرو راوړو اړوند، محترم درويش درانی ليکي:

"که موږ له نوي زماني څخه پر شا لږ تېرو وختونو ته و ګرځو او د تلميح او حوالي پر ځای په ادب کي، په خاصه توګه په شعر کي، لږ په فراخه پيمانه د اساطيرو ځايونه و څېړو، نو په مخه به داسي بې شمېره نظمونه را شي چي په هر يوۀ کي به يوه روغه اسطوره وړاندې شوې وي، دغسي نظمونه په هره هغه ژبه کي شته، چي ويونکو يې اساطير لرلي وي، اروپايي ژبو ته بيا د يوناني او لاطيني ژبو اساطير په ميراث کي ور پاته شوي دي، دغو ژبو له دغي ورثې څخه په خلاص موټ ګټه پورته کړې ده او دغه په يوه نظم کي د يوې روغي اسطورې د ځايولو په لږ کي هم دغه هره يوه ژبه ګڼ شمېر نظمونه لري، چي په زياترو کي يې اسطوره په هماغه اساطيري بڼه راغلي وي، خو ډېر ځله بيا چي يو توانا تخيل لرونکی شاعر ور باندې اوښتی دی نو په نظم کي د اسطورې اساطيري رنګ تت شوی او قصه د حقيقت په رنګ رنګېدلي ده، د بېلګي په توګه د شېکسپير يو نظم وينس اينډ ايډوينس (Venus and Adonis)را وړلای شو، وينس هر څو که د ښکلا الهه ده، خو په دغه نظم کي هغه صفا د يوې ښځي غوندي ښکاري او ايډوينس، چي دغه الهه ور باندې مينه ده، د کره کتونکو په وينا بس يو انګريز ځوان دی، دغه رنګه په نظم کي راغلي بېلابېل انځورونه، بلکي د نظم ټوله فضا، حقيقي ښکاري(99 _98 :2) ".

په پښتو کي استاد لېوال دغسي يو هنرمن ګڼلای شو چي له اساطيرو يې، بالخصوص په سلسال و شاهمامه کي، د يوه توانا تخيل لرونکي په توګه، هنرمندانه چلن کړی دئ چي د سلسال و شاهمامي اساطيري کرکټرونه يې د ټيپيکو اخلاقي، ميړنيو، ژمنو او وطنپالو اتلو افغانانو په څېر تمثيل کړي دي.

لکه د استاد لېوال چي عادت دئ، زموږ خپلي آريايي اسطوري بيا بيا را ژوندی کوي، جالبه ده! يوه زمانه وه چي دغو اسطورو به زموږ خلکو او د هغوی طبيعت ته ژوند ور کاوه خو لکه نن چي يې زموږ شاعر حق ور ادا کوي او دغو اسطورو ته په خپل هنر کي بيا ژوند ور کوي، لکه سوريا د لمر الهه، د سوريا بګی ياني لمر، آناهيتا د اوبو، آبادی او باروری الهه، اناهيتا د شاهمامي مور (شاه ميرمنې) ته په خوب کي وړاندوينه کوي چي وروسته پړاو په پړاو رشتيا کيږي:

شاهمامه د ژوند ژغورنې، کرکيلي او پنځوني نښانه ده، له يوه ځوان سره به خلک و ژغوري، د رڼو اوبو ډنډونه به جوړ کړي، له خوني پړانګه به رمی و ژغوري، په پاروپاميزاد کي به ښامار بندي کړي او د دې چارو لپاره ور ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خپله الماسي نېزه ور کوي. هر څوک چې د شاهمامي خواهش لري نو ځيني اسطوروي شرطونه به پوره کوي چې سلسال يې منلو و پوره کولو ته ملا تړي:

له درو سختو پړاوو به تيرېږي، ژوند به له رنځونو، بديو او تيارو ژغوري، که غواړي شاهمامه د خپل ژوند څراغ کړي نو دا به له اهريمنه او ځان به له ګناهو ژغوري، له لمر خاته را روان کس به يې، چې روښان او ويښ دئ، لاربنود شي، هغه چې له درده و رنځه د خلاصون په راز پوه دئ او دا ساکيامونی/ بودا دئ چې له يوه ټوټه ښېګني و نور څخه عبارت او د شر و تياري ضد قطب دئ، هغه چې سوليېز، انسانپالونکي او د پوهې له رڼا مالامال اخلاقي پيغامونه يې زموږ خاورې ته له ختيځ /هندوستان څخه، د موريا کورنۍ په واکمنۍ سره را خپاره شول، دلته د ګريکو_ بوديک هنر په ايجاد سره ابدي شول او د استاد لېوال په دغه منظومه کې، د اساسي پيغام په توګه، د يوه شعري شهکار په شکل، يو ځل بيا احيا شول او دا ځل به په دا ډول، د ابديت يوه بله پخه ټاپه و خوري.
د ښاغلي لېوال يو له کمالو دا دئ چې د بوديزم فلسفي څلور مقامونه او اته اصول يې، د کېږوک په څلورو چينو او له دغو چينو په را بېلو شوو اتو ډنډونو سره، په خورا متفکرانه و هنرمندانه انداز سره تمثيل کړي دي، دا اته اصول دي:

۱ _ پاکه عقيده، ۲_ پاکه اراده ۳_ پاکه خبره/ وينا/ ژبه ٤_ پاک کړه ٥_ پاک خواړه/ حلاله نفقه ۶ _پاکه هڅه ۷_ پاکه پاملرنه/ حافظه/ ذهن ۸_ پاک ځار/ انديښني. وايي څوک چې پر دغو اصولو ولاړ وي، له قيده ووځي، فکر پر ټاکلي ټکي متمرکز کړي چې له خواهشاتو بېخي خلاص وي نو بيا تر دغو څلورو مقاماتو اوړي:

1 _ د حقيقت پېژندنې بحث/ څېړنه
2 _ په حقيقت پوهنه کې فکر
3 _ ژور تفکر او سکون
4 _ بشپړ سکون او توازن (نيروانا)

نوربيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ